# شتمني SHTAMANI
اوونيزه
تأسیس: ۱۳۹۴ل ل
زموږ ماليه، زموږ هيواد، زموږ راتلونکی

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**صادق او امين سوداګر**

**د حديث شريف ژباړه: نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:** صادق او امين سوداګر به له نبيانو، صديقينو او شهيدانو سره يوځای وي. [رواه الترمذي و مسند الدرامي باب في التجارة الصدوق)ص: ۱٦٥۳ ج: ۳ شان الحديث ۲٥٨۱،( ابن ماجه کتاب التجارة باب الحث علي المکا سب ص: ۱٥٥)]

**تاجر صادق و امين**

**ترجمه حديث شريف: نبی کريم صلی الله عليه وسلم فرموده است:** تاجر صادق و امين در جمع نبيان، صديقين و شهدا خواهد بود. [رواه الترمذي و مسند الدرامي باب في التجارة الصدوق)ص: ۱٦٥۳ ج: ۳ شان الحديث ۲٥٨۱، ( ابن ماجه کتاب التجارة باب الحث علي المکا سب ص: ۱٥٥)]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


جمادی الثانی ۴ -۱٤٤٧ل س | د لیندۍ ۴ -۱٤۰۴ل ل | د نومبر۲٥-۲۰۲٥ز | پنځم کال | ۱٥٥ ګڼه | ٤ مخيزه | ۱


# د ماليې وزارت د رهبرۍ پلاوي پنځمه ناسته وسوه



د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند په مشرۍ او د مالي چارو، ګمرکونو او عوايدو، اداري او پاليسۍ د معينانو او د اړوندو رئيسانو په ګډون د روان (۱۴۴۷هـ.ق) کال د رهبرۍ پلاوي پنځمه ناسته د دغه وزارت په مقام کې وسوه. په دغه ناسته کې د ماليې وزارت د ستراتيژيک پلان پر جوړولو، د وظيفوي تداخل له منځه وړلو او د دندو لايحو اصلاح کولو، په ولايتي ګمرکونو کې د کارکوونکو او شرکتونو د استازو له پاره د پېژندني کارټ جوړولو، د ګمرکونو له پاره د واحد اداري کمپلېکس د ماستر پلان ارزښت او د هغو تېلو او ګازو پلورونکو له پاره د ماليې د عادلانه نورم پر جوړولو، چې يوازې د بولۍ له لارې تېل او ګاز پلوري او يو شمېر نورو اړينو موضوعاتو په تړاو بحث او لازمي پرېکړې وسوې.

د يادوني ده، چې د ماليې وزارت د رهبرۍ پلاوي ناستې د ياد وزارت د اړوندو څانګو ترمنځ د غوره همغږۍ، ستونزو د حل، چارو ته د ښې رسېدنې او لا پرمختګ په موخه ترسره کېږي.

# له **پاکستان** سره د سوداګريزو اړيکو پرېکون د هيواد پر سوداګرۍ **منفي** اغېز نه دئ کړی



له پاکستان سره د افغانستان اسلامي امارت سوداګريز پرېکون د هيواد د سوداګرۍ بهير هيڅ ډول نه دئ اغېزمن کړی، بلکې د افغانستان سوداګريزې چارې د سيمې او نړۍ له هيوادونو سره په نورمال ډول، له کومې ستونزې پرته رواني دي. له پاکستان سره د سوداګريزو اړيکو له پرېکون سره د ګمرکي محصول په کچه کې هم هيڅ ډول کموالی نه دئ راغلی او په عادي توګه د هيواد له ګمرکونو څخه د سوداګريزو توکو پړاوونه ترسره کېږي.

د ماليې وزارت له لوري د هيواد په ټولو ګمرکونو کې د کورنيو او بهرنيو سوداګرو له پاره د پام وړ اسانتياوې رامنځته سوي دي؛ ترڅو له پاکستان څخه پرته د نورو ګاونډيو، سيمې او نړۍ له هيوادونو سره سوداګري ترسره کړي. دغه وزارت يو ځل بيا ټولو سوداګرو ته ډاډ ورکوي، چې د پاکستان پر ځای له بديلو لارو د سوداګريزو اړيکو د ټينګښت په برخه کې به د سوداګرو بشپړ ملاتړ کوي او په اړوندو برخو کې به د لا ډېرو اسانتياوو برابرولو لاره هواره کړي.

# د نړيوال بانک له لوري د پروژو او قراردادي شرکتونو د پيسو د بيا ور کړې پروسې د پيل په تړاو د ماليې وزارت اعلاميه

له نړيوال بانک سره د ماليې وزارت د پرله پسې اړيکو، هڅو او همکاريو په پايله کې دغه بانک د خپل دفتر له بيا پرانيستلو سره سم، په افغانستان کې خپل فعاليتونه هم پيل کړل. اوسمهال نړيوال بانک چمتو دئ؛ ترڅو د هغو پروژو او قراردادي شرکتونو پيسې ور کړي، چې اسناد ئې د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو څخه مخکې بشپړ او طی مراحل سوي ول. نړيوال بانک د هغو پروژو او قراردادي شرکتونو د پيسو د بيا ور کړې لړۍ، چې اسناد ئې د دغه بانک د څارني ټيم (TPMA) او د ماليې وزارت له لوري څېړل سوي او نهايي سوي دي، پيل کړې ده. د څېړنو له مخې نړيوال بانک له قراردادي شرکتونو څخه نږدې (۴٥) ميليونه ډالر پوروړی دئ، چې دغه پور به په څلورو پړاوونو کې له ماليې وزارت سره په همغږۍ قراردادي شرکتونو ته ور کول کېږي.





دوام: ۲ مخ ...


## سرمقاله

### راه‌های بديل برای بهبود مبادلات تجاری افغانستان

مبادلات تجاری به فعالیت‌های اقتصادی اطلاق می‌شود که در آن کالاها و خدمات بین کشورها یا مناطق مختلف جابجا می‌شود. این مبادلات معمولاً شامل صادرات و واردات است و نقش بسزایی در رشد اقتصادی و توسعه کشورها ایفا می‌کند. ایجاد اشتغال با افزایش تولید و صادرات و رقابت در بازار های جهانی از مزایای مهم مبادلات تجاری محسوب می گردند. برای بهبود مبادلات تجاری، استراتژی های مؤثر از قبیل ایجاد پیمان های تجاری با کشور های دیگر، سرمایه گذاری در زیرساخت ها حمل و نقل و لوجستیک و ایجاد سیاست های که به حمایت از صنایع داخلی و افزایش رقابت پذیری آن توافقات تجاری، تقویت زیرساخت ها و حمایت از تولیدات داخلی نیاز است.

یکی از استراتیژی های بهبود معاملات تجاری یافتن راه های بدیل بخاطر تبعیض تجاری و وابستگی بیش از حد می باشد. کشور پاکستان که علیرغم توافقنامه تجارت و ترانزیت با افغانستان، با بروز هر گونه تنش سیاسی، مرزها را مسدود می کرد و به مبادلات تجارتی ضربه می زدند یافتن راه های بدیل برای مبادلات تجاری و ایجاد تنوع در روابط تجاری یک امر لازمی و ضروری به این معضله پنداشته می شود.


کشور های آسیای میانه ( قزاقستان، ازبکستان، تاجکستان و قرغیزستان) می توانند بدیل های مناسبی برای مبادلات تجاری افغانستان نسبت به پاکستان باشند. این کشور ها بازار های جدید برای کالا های افغانستان می شوند و میتوان کالاهای مختلفی نظیر محصولات زارعتی و مواد معدنی را صادر کرد. این کشور ها دسترسی افغانستان را به بازار روسیه فراهم می سازد. علاوه برآن، میتوان روابط تجاری را با ایران و هند توسعه داد. وجود مرزهای مشترک افغانستان و ایران میتواند هزینه های حمل و نقل را کاهش داده و نیاز های اولیه ما مانند انرژی، گاز و محصولات صنعتی را تأمین کند. بازار بزرگ هند میتواند مقصد خوبی برای کالای افغانستان باشد.

امارت اسلامی افغانستان یک سیاست خارجی اقتصاد محور در پیش گرفته و بر این اساس تلاش خاص را برای بسیط سازی و گسترش روابط تجاری با کشورهای منطقه آغاز کرده است. امارت اسلامی تلاش کرده است تا با یافتن بدیل های تجارتی، میزان وابستگی خود به پاکستان را تا حدی زیاد کاهش دهد. با هدایت جریان کالاهای خود به سمت بندر چابهار، این مسیر را به عنوان یک بدیل در مقابل بندر کراچی انتخاب نموده است.

شرایط کنونی، تاجران افغان را به سوی کشورهای جدید و فرصت‌های تازه هدایت می‌کند. این تغییر، افغانستان را وادار می‌کند تا سیستم تجاری‌اش را گسترش دهد، گمرکات جدید تاسیس کند و مسیرهای جاده‌ای و ریلی را توسعه دهد. این اقدامات می‌تواند به بهبود سیستم قدیمی تجاری افغانستان کمک کند. ایجاد بدیل‌های تجاری به افغانستان این امکان را می‌دهد که از وابستگی به یک کشور خاص خارج شود و با غنای بیشتری به توسعه اقتصادی بپردازد. این موضوع نه تنها باعث افزایش درآمدهای ملی می‌شود، بلکه به پایداری اقتصادی و اجتماعی کشور نیز کمک می‌کند.

**با احترام**

**اداره**



د ماليې وزير د سوداګرۍ او پانګوني خوني له مسئولينو او د درملو را واردوونکو سوداګرو سره وکتل


م ۲





د عوايدو لوی رياست استازو د امام ابو حنيفه (رح) په څلورم ملي او نړۍ وال نندارتون کي ګډون وکړ


م ۲




په تېرو دوو اوونيو کي د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کي (۱٥۲) ټنه قاچاقي توکي نيول سوي دي


م ۲

د خدماتو رياست کارکوونکو له پاره د " امربالمعروف قانون د تطبيق " تر سرليک لاندي سيمينار وړاندي سو


م ۲





په هيواد کي د سوداګريزو چارو د چټکتيا په موخه په ګمرکونو کي د رسم ارضيې وختونه را کم سول


م ۳




افغانستان د لويو ايراني شرکتونو له لاري د پانګوني لېوالتيا لري


م ٤

## د ماليې وزير د سوداګرۍ او پانګوني خوني له مسئولينو او د درملو را واردوونکو سوداګرو سره وکتل

د ماليې وزير الحاج ملا محمد ناصر اخوند د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني د مديره پلاوي له غړي خان جان الکوزي او هيواد ته د درملو را واردوونکو يو شمېر سوداګرو سره وکتل. په دې کتنه کې د پاکستان پر ځای پر بديلو سوداګريزو لارو، له بديلو لارو څخه د راواردېدونکو درملو له پاره پر ګمرکي اسانتياوو او د سوداګرو پر احتمالي ستونزو خبري وسوې. د هيواد د سوداګرۍ او پانګوني خوني



مسئولينو او د درملو را واردوونکو سوداګرو، په ګمرکونو کې رامنځته سوي اسانتياوي وستايلې او له بديلو لارو څخه د سوداګريزو اموالو د پراوونو ترسره کولو په برخه کې ئې د لا ډېرو اسانتياوو او همکاريو غوښتنه وکړه. د ماليې وزير د هيواد د سوداګرۍ او پانګوني خوني مسئولينو او د درملو راواردوونکو سوداګرو ته ډاډ ورکړ، چې د تل په څېر به د دوی ملاتړ کوي او په اړوندو برخو کې به اسانتياوي نوري هم زياتي کړي او احتمالي ستونزي به ئې پر وخت ور حل کوي.

## آرشيف فزيکی وزارت ماليه توسعه داده شد


وزارت ماليه بخاطر حفظ و نگهداری اسناد و مدارک خود بصورت مصئون، تضمين دسترسی آسان و سريع به اطلاعات در زمان نياز، حفظ يکپارچگی و اصالت مدارک و جلوگيری از مفقود شدن يا آسيب ديدن آن آرشيف فزيکی اين وزارت را توسعه داد. از آنجا که آرشيف وزارت ماليه ظرفيت کافی برای حفظ و نگهداری اسناد سالهای قبل نداشت و مديريت و بازيابی اسناد مهم به مشکل مواجه می شد، رياست اسناد و ارتباط وزارت ماليه تصميم گرفت تا يک مکان نسبتاً بهتر و آزاد تر را برای حراست از اسناد با ارزش و آماده سازی




اسناد جهت استفاده مراجعين ايجاد نمايد. در نهايت هنگر شماره (۱۳) گمرک کابل با تهيه و فراهم سازی (۲۰۵۰) متر مربع الماری به ارزش (۶۸۵۹۱۵۰) افغانی مجهز با دوربين های امنيتی، برق (۲۴) ساعته و دروازه زرهی برای آرشيف و نگهداری اسناد و سوابق وزارت ماليه اختصاص داده شد. در اين هنگر تقريباً (۴۰ الی ۵۰) هزار دوسيه جابجا و نگهداری ميگردد و حين ضرورت ادارات ضريعه استعلام کاپی اسناد و سوابق هر اداره در اختيار متقاضی قرار خواهد گرفت. گفتنی است که آرشيف برای ذخيره سازی اسناد و مدارک ادارات پس از اتمام دوره استفاده روزانه از چرخه فعاليت های اداره خارج شده اند، مورد استفاده قرار ميگيرد.

## د عوايدو لوی رياست استازو د امام ابو حنيفه (رح) په څلورم ملي او نړۍ وال نندارتون کې ګډون وکړ


د افغانستان د ملي او نړۍوال نندارتون په تالار کې (د امام ابو حنيفه (رح) څلورم ملي او نړۍ وال نندارتون) تر سرليک لاندي د خصوصي سکتور د هڅوني او ملي توليداتو ته د بازار موندني په موخه (۷) ورځنی نندارتون، د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني له لوري پيل سو. د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست استازو، صنعت کارانو، سوداګرو او ننداره کوونکو په ياد نندارتون کې د مالياتو د عامه پوهاوي په موخه برخه اخيستې ده، چې د عوايدو لوی رياست له لوري چاپ سوي کتابونه، بروشرونه، د افغانستان



ماليـاتي پروفايـل، اخبارونه او مجلې، چې د ماليـاتو په اړه بشپړ معلومات پکښې ذکر سوي دي، نندارې ته وړاندي او ننداره کوونکو ته ووېشل سول. د ماليې وزارت هڅه کوي، چې له هر ممکنه فرصت څخه ګټه پورته او خلکو ته د ماليـاتو په اړه عامه پوهاوی ور کړي؛ ترڅو ملي بوديجه زياته او هيوادوالو ته غوره خدمات وړاندي سي. ياد نندارتون د لېندۍ مياشتي تر (۲) مې نېټې پوري دوام درلود، چې د عوايدو لوی رياست د استازو له لوري ننداره کوونکو ته د افغانستان د ماليـاتي نظام، ماليـاتي پروسو او د ماليه ورکوونکو د ماليـاتي ستونزو اړوند بشپړ معلومات وړاندي سول.


## د خدماتو رياست کارکوونکو له پاره د "امربالمعروف قانون د تطبيق" تر سرليک لاندي سيمينار وړاندي سو

د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست د دې وزارت په جومات کې د خدماتو رياست کارکوونکو له پاره د "امربالمعروف قانون د تطبيق" تر سرليک لاندي سيمينار وړاندي کړ. په دې سيمينار کې د دعوت او ارشاد رياست رئيس مولوي عبدالهادي سيف الخالد، د دعوت او ارشاد رياست مدرس او امام شيخ الحديث محمد مبين اميني، د دعوت او ارشاد رياست د مرکزي او ولايتي ادارو د همغږۍ آمر مولوي وصيف احمد احمدي او يو شمېر نورو مسئولينو ګډون کړی وو. د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست امام او مدرس د خپلي وينا پر مهال ګډونوالو ته د حلالو او حرامو په تړاو معلومات ورکړل او زياته ئې کړه، چې اسراف د نشه يي توکو کارول او په امانت کې خيانت کول حرام دي او له ګډونوالو ئې وغوښتل، چې په کلکه له دې کړنو ډډه وکړي. د دعوت او ارشاد رياست د مرکزي او ولايتي ادارو د همغږۍ آمر وويل، چې هر هغه څوک چې په يوه نظام کې کار او فعاليت کوي بايد ځان د هغه نظام له شرايطو سره سم برابر کړي. د امربالمعروف قانون د تطبيق پلي کول د دې اسلامي نظام له شرايطو څخه دئ، چې موږ ئې د دې نظام د کارکوونکو په توګه بايد پلي کړو. د دعوت او ارشاد رئيس ګډونوالو ته پر امانت او د بيت المال په ساتنه، يو بل ته پر درناوي او لمانځه او درسونو کې پر ګډون ټينګار وکړ.



## کار ساخت چهار باب هنگر در گمرک ابونصر فراهی ولايت فراه (۷۰ ) در صد تکميل شده است

کار ساخت چهارباب هنگر به ارزش (۷۱.۸) ميليون افغانی از سوی رياست عمومی گمرکات وزارت ماليه در گمرک ابونصر فراهی ولايت فراه ادامه دارد که تا اکنون (۷۰) در صد رو به تکميل شدن است. هر يک از اين هنگرها ظرفيت نگهداری (۵۰۰۰) تن متريک اموال در يک زمان را دارا خواهد بود که با ساختن آن سهولت های زياد در زمينه حفظ و نگهداری اموال برای تاجران فراهم خواهد شد. قابل ذکر است که هزينه اين پروژه از بودجه



انکشافی وزارت ماليه بوده و کار عمرانی آن نيز به دوش يک شرکت افغانی می باشد.

شتمنی
SHTAMANI
اوونيزه

## په تېرو دوو اوونيو کې د هيواد په بېلابېلو ولايتونو کې (۱۵۲) ټنه قاچاقي توکي نيول سوي دي



د ماليې وزارت د ګمرکونو لوی رياست د ګرځنده څارني کارکوونکو په تېرو دوو اوونيو کې د هرات، کندهار، نيمروز، فراه او هلمند ولايتونو په بېلابېلو سيمو کې (۱۵۱.۷) ټنه قاچاقي توکي نيولي دي، چې قاچاق کوونکو غوښتل له ګمرکي محصول پرته ئې په قاچاقي ډول افغانستان ته راوړي. په نيول سويو توکو کې (۵۸۴۷۱) کيلو ګرامه کېلې، (۳۷۱۵۷) کيلو ګرامه لېمو، (۱۸۸۲۹) کيلو ګرامه انساني طبي درمل، (۹۵۸۳) کيلو ګرامه چاکلېټ، (۵۲۹۰) کيلو ګرامه رخت باب، (۴۹۸۰) کيلو ګرامه چرګوړي، (۴۳۷۵) کيلو ګرامه د پنير پوډر، (۱۰۰۰) کيلو ګرامه طبي کريم، (۴۸۰۰) کيلو ګرامه ګوره، (۷۲۰) کيلو ګرامه د وچې مېوې د بسته بندۍ پلاستيک، (۵۳۸) کيلو ګرامه لوبيا، (۷۹۷) کيلو ګرامه نوې البسه، (۱۸۰۰) کيلو ګرامه صابون، (۳۰۰) کيلو ګرامه شېريني باب، (۲۸۰) کيلو ګرامه وريجي، (۲۵۷) کيلو ګرامه خُرما، (۹۱۰) کيلو ګرامه ملايي، (۲۷۰) کيلو ګرامه هګۍ، (۷۱۸) کيلو ګرامه رُب، (۱۱۵) کيلو ګرامه د چلم مېوه، (۱۹۰) کيلو ګرامه دال، (۱۱۰) کيلو ګرامه غوړي، (۵۱) کيلو ګرامه بنجاره باب، (۴۲) کيلو ګرامه د کرکټ توپونه، (۳۰) کيلو ګرامه د کبانو غوښه، (۷۰) کيلو ګرامه ليلامي بوټونه، (۴۰) کيلو ګرامه بيسکيټ او (۲۴) کيلو ګرامه د موټر پرزې شاملي دي. نيول سوي توکي او تورن کسان د نورو اجراآتو له پاره اړوندو ګمرکونو ته سپارل سوي دي

### ... د نړيوال بانک له لوري د پروژو

په لومړي پړاو کې به نړيوال بانک (۹،۳) ميليونه ډالر په مستقيم ډول بهرنيو قراردادي شرکتونو ته ور کړي؛ په دوهم پړاو کې به، چې اوسمهال پيل سوی (۱٦،۸) ميليونه ډالر د ماليې وزارت له لاري شرکتونو ته ور کړل سي او په راتلونکو دريمو او څلورمو پړاوونو کې به د دې شرکتونو نور تاديات هم په نوبت سره اجراء او ور کړل سي. د نړيوال بانک له لوري د قراردادي شرکتونو د پورونو ورکړه يو مثبت ګام دئ، چې د اسلامي امارت د نه ستړي کېدونکو هلو ځلو او غوره همغږۍ په پايله کې اخيستل سوی دئ، چې دا ګام د اغېزمني حکومتولۍ او د هيوادوالو د حقونو خونديتوب ته د اسلامي امارت پوره ژمنتيا څرګندوي.

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# په هیواد کي د سوداګریزو چارو د چټکتیا په موخه په ګمرکونو کي د رسم ارضیې وختونه را کم سول

د مالیې وزارت په وړاندیز او د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء عالي مقام په منظوری په هیواد کي د سوداګریزو چارو د چټکتیا، د سوداګرو ستونزو د کمولو او د ګمرکي پروسو د معیاري کولو په موخه په ګمرکونو کي د رسم ارضیې وختونه را کم سول.
د دې پرېکړي له مخي هغه توکي، چي په ګمرکونو کي ټي یک (د کورني ټرانزیټ فورم) نه اخلي او اظهارلیک ور ته ترتیبېږي د دخولي دروازې د انیکس سیستم له ثبت څخه د خروجي پاڼي تر چاپ پوري (۱۵) کاري ورځي وخت ور کول سوی. هغه توکي چي په ګمرکونو کي (T۱) فورم اخلي د سرحدي ګمرک د دخولي دروازې د انیکس سیستم له ثبت څخه د محصولي ګمرک د خروجي پاڼي تر چاپ




پوري (۲۰) کاري ورځي وخت ور کول سوی دئ.
همداشان د دې پرېکړي له مخي هغه محمولې، چي طی مراحل او خروجي برګه ئې چاپ سوې وي (۵) کاري ورځي وخت ورکول سوی دئ. د ذکر سویو ورځو له تېرېدو څخه وروسته یاد اموال د رسم ارضیې تابع ګرځي.
له دې وړاندي د انیکس سیستم له ثبت څخه د خروجي پاڼي (برګې) تر چاپ پوري په سرحدي او محصولي ګمرکونو کي (۳۰) کاري ورځي وخت ور ته ټاکل سوی وو او هغه محمولې، چي طی مراحل او خروجي پاڼي ئې چاپ سوي وې (۱۰) کاري ورځې ئې وخت درلود.
د یادوني وړ ده، هغه توکي چي له پورته ذکر سویو ورځو څخه زیات د ګمرکونو په ګدامونو کي پاتي سي له محصولي سوداګریزو توکو څخه د هري ورځي په تېرېدو سره د ګمرکي محصول (۰.۵) سلنه او د معافي توکو له ګمرکي ارزښت څخه (۰.۰۵) سلنه پیسې د رسم ارضیې په نوم ترې اخیستل کېږي.

# راه کارهای پیشنهادی برای باز سازی و توسعه اقتصادی افغانستان

نویسنده: محمد رضا "صمدی"
کارشناس ارایه طرح های اقتصادی

...ادامه

خوشبختانه به لطف تکنالوژی های امروزی بشر قادر شده است که انرژی آفتاب را مجزا از سیستم های طبیعی مهار کند و آنرا جهت استفاده های گوناگون به خدمت گیرند. موقعیت جغرافیایی کشور ما در کنار چالش هایش مزایایی نیز دارند که یکی از این مزایا این است که افغانستان در کمربند آفتابی کره زمین واقع شده است و در طول یک سال بیشتر از (۳۰۰) روز آفتابی دارد. این نعمت و مزیت کم نیست با این آفتابی که افغانستان دارد می تواند سالانه (۲۲۰۰۰۰) میگاوات برق تجدید پذیر تولید کند. این مقدار برق چندین مرتبه بیشتر از نیازهای



فعلی کشور ما است. نیاز یک افغانستان صنعتی به برق سالانه (۲۳۰۰۰) میگاوات است. اگر روزی ما بتوانیم از تمام ظرفیت آفتاب خود در تولید انرژی برق استفاده کنیم تخمیناً (۲۰۰۰۰۰) میگاوات برق اضافی از آفتاب خویش تولید کرده می توانیم و این مقدار برق بدون محاسبه مقدار برقی است که از منابع بادی و آبی کشور تولید می شوند. درست است که این کار نیازمند سرمایه گذاری میلیارد دالری است اما ساختن و به توسعه رساندن اقتصاد یک کشور بدون سرمایه گذاری میلیاردی به راه نمی افتد. پس این سنجش و سرمایه گذاری می تواند منطق و توجیه اقتصادی داشته باشند و آنرا به صرفه کند. با یک حساب سرانگشتی می توان دریافت که سرمایه گذاری بالای انرژی آفتابی در افغانستان هیچ نوع ضرر نداشته و همه اش مزیت و مفاد به دنبال دارد. اگر ما موفق به این مقدار تولید برق از آفتاب خویش شویم در بخش انرژی خود کفا می شویم، آلودگی محیط زیست را از بین می بریم، در بخش صحت، زراعت و صنعت پیشرفت می کنیم و در نهایت صاحب سرمایه فراوان می شویم. در آخر با استفاده از این مازاد سرمایه سایر زیربناهای کشور نظیر جاده، خط آهن، ترانسپورت و ترانزیت، مدیریت آب و زراعت و سایر نیازمندی های کشور را بسازیم. فقط مهم این است که مسئولین امور نوع سرمایه گذاری را مطابق مدل های سرمایه گذاری و به خصوص قوانین مشارکت عامه و خصوصی و اتحادیه های مردمی نظیر برنامه همبستگی ملی در سراسر دهات و شهر های افغانستان تنظیم نمایند تا افغانستان به این نعمت و مزیت خدادادی و طبیعی خویش نایل آیند و کشور را وارد فاز صنعت نمایند. به امید روزی که این اشعه های زرین خورشیدی وسیله ی شود که بتواند ذهن و ضمیر سراسر مردم افغانستان را روشن کند و انرژی آن چرخ صنعت ما را به گردش آورند.

پایان

# اعلانات داوطلبی

## اعلان داواطلبی

مستوفیت هرات ٤ باب دوکان واقع چهاراهی آمریت، ملکیت مقام محترم مستوفیت ولایت هرات را بر اساس نرخ کرایه سابقه از طریق داوطلبی و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک امارتی به اجاره مید دهد.
۱- دوکان نمبر ۱۱ موازی ۱٤,۵۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٤٤۰۰) افغانی. با کوردینات x-٤۲۷۱٦۳ و y-۳۸۰۱۱۲۵
۲- دوکان نمبر ۱٤ موازی ۱٤,۵۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٤٤۰۰) افغانی. با کوردینات x-٤۲۷۱٦۳ و y-۳۸۰۱۱۲۵
۳- دوکان نمبر ۱۵ موازی ۱٤,۵۷ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٤٤۰۰) افغانی. با کوردینات x-٤۲۷۱٦۳ و y-۳۸۰۱۱۲۵
٤- دوکان نمبر ۱۹ موازی ۳۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۱۵۰) افغانی. با کوردینات x-٤۲۷۱٦۳ و y-۳۸۰۱۱۲۵
بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکان های فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۷) یوم اعتبار از تاریخ (۱) قوس سال ۱٤۰٤ الی (۷) قوس سال ۱٤۰٤ به مدیریت عمومی املاک امارتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.}
تاریخ مجلس داوطلبی و آفر گشایی ۸ قوس سال ۱٤۰٤ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد
آدرس : مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاک دولتی
شماره تماس: ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

## اعلان داوطلبی

مستوفیت ولایت هرات ساحه ۱۰ باب غرفه جات داخل گمرک اسلام قلعه و هرات ملکیت ریاست محترم گمرک ولایت هرات را بر اساس نرخ سابقه و استعلام های همجوار از طریق داوطلبی و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک امارتی به اجاره می دهد.
۱- ساحه یکباب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۷۰) افغانی.
۲- ساحه یک دربند غرفه موازی ۷,۱۸ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٤۰۵۰) افغانی.
۳- ساحه ۹ باب موازی ٤۵,۱۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۸۵۰) افغانی.
٤- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۱۰۰) افغانی.
۵- ساحه یک باب غرفه موازی ٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۵٤۰) افغانی.
٦- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.
۷- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۱۱۵۰) افغانی.
۸- ساحه یکباب غرفه موازی ٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۰۰) افغانی.
۹- ساحه یک باب غرفه موازی ٦ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۷۷۰) افغانی.
۱۰- ساحه یک باب غرفه موازی ۱۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (٦۲۵۰) افغانی.
بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن ساحات فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۲۱) یوم اعتبار از تاریخ ۱ قوس سال ۱٤۰٤ الی ۲۱ قوس سال ۱٤۰٤ به مدیریت عمومی املاک امارتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.}
تاریخ مجلس داوطلبی و آفرگشایی ۲۲ قوس سال ۱٤۰۳ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد
آدرس : مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاک امارتی
شماره تماس: ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

## اعلان داوطلبی

مستوفیت هرات ساحه یک باب دوکان گادری واقع سرک شیدائی ملکیت ریاست محترم شفاخانه حوزوی ولایت هرات را بر اساس نرخ کرایه سابقه ماهوار مبلغ (۹۷۰۰) افغانی از طریق داوطلبی و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک امارتی به اجاره دهد. بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۲۱) یوم اعتبار از تاریخ ۱ قوس سال ۱٤۰٤ الی ۲۱ قوس سال ۱٤۰٤ به مدیریت عمومی املاک دولتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.}
تاریخ مجلس داوطلبی و آفر گشایی ۲۲ قوس سال ۱٤۰٤ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد.
آدرس : مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاک امارتی
شماره تماس: ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

## اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء ) اعمار هنگر تیپیک گمرک سرحدی اسلام قلعه ولایت هرات) دارای نمبر تشخیصیه MOF/ ۱٤۰٤/ ۲۸۲۹-NCB/W که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون عقود و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۰۹/ قوس ۱٤۰٤/ ساعت ۱۱:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱۹/ قوس ۱٤۰٤/ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ٤۰۰,۰۰۰ (چهار صد هزار) افغانی میباشد.
آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af)، ریاست محترم عمومی اداره امور ا.ا.ا شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱۵٦ و آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود

## اعلان داوطلبی

مستوفیت هرات ۱۰ باب دوکان واقع چوک فرهنگ ملکیت ریاست محترم اطلاعات و فرهنگ ولایت هرات را بر اساس نرخ کرایه سابقه از طریق داوطلبی و آفرگشایی مطابق به طرزالعمل قرارداد های املاک امارتی به اجاره دهد.
۱- دوکان نمبر ۱ موازی ۲۹,٤ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
۲- دوکان نمبر ۲ موازی ۳۰ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
۳- دوکان نمبر ۳ موازی ۳۱,۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
٤- دوکان نمبر ٤ موازی ۳۰ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
۵- دوکان نمبر ۵ موازی ۳۱,۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
٦- دوکان نمبر ٦ موازی ۳۳ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
۷- دوکان نمبر ۷ موازی ۳۰,۸ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
۸- دوکان نمبر ۸ موازی ۳۰,۸ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
۹- دوکان نمبر ۹ موازی ۳۱,۵ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
۱۰- دوکان نمبر ۱۰ موازی ۳۲,۲ متر مربع با کرایه ماهوار مبلغ (۸۵۰۰) افغانی.
بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن دوکان ها فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۲۱) یوم اعتبار از تاریخ ۱ قوس سال ۱٤۰٤ الی ۲۱ قوس سال ۱٤۰٤ به مدیریت عمومی املاک امارتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.
تاریخ مجلس داوطلبی و آفرگشایی ۲۲ قوس سال ۱٤۰٤ به ساعت ۲ بعد از ظهر برگزار میگردد
آدرس : مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاک امارتی
شماره تماس: ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسئول مدیر: عبدالقیوم نصیر
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکسپانه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)

شتمني
SHTAMANI
اوونیزه
زموږ مالیه، زموږ هیواد، زموږ راتلونکی

جمادی الثانی ۴-۱٤٤۷ل س | د لیندی ۴-۱٤۰۴ل ل | د نومبر۲۵-۲۰۲۵ز | پنځم کال | ۱۵۵ ګڼه | ٤ مخیزه


statement

# WB to Disburse Its $45 mln Outstanding Loans in 4 Phases as MoF Paves Collaboration Way

As a result of the consistent communication, efforts and cooperation of MoF with the World Bank (WB), the Bank has commenced its activities in Afghanistan, following the reopening of its office. WB is ready to reimburse the projects and contractors whose documents were completed and in process before the re-establishment of the IEA. The World Bank has started the process of




reimbursing the projects and contractors whose documents have been reviewed and finalized by the Bank-led Third Party Monitoring Agent (TPMA), and the Ministry of Finance. According to the inspection, the World Bank owes approximately $45 million to the contractors, which will be disbursed to the contractors in four phases in coordination with MoF. In the first phase, the World Bank will pay off $9.3 million directly to foreign contractors. In the second phase that has just begun, $16.8 million will be disbursed to the corporations through the Ministry of Finance, and in the upcoming third and fourth phases, other payments to these corporations will be disbursed in turn. The disbursement of loans to the contracting corporations by the World Bank is a positive step, which has been taken as a result of the diligent efforts and the excellent coordination of the IEA that demonstrates the commitment of IEA to effective governance, and the protection of the rights of its citizens.

# Trade Suspension with Pakistan not Affected Afghanistan's trade Process, MoF

The suspension of trade by IEA with Pakistan, has not affected negatively Afghanistan's trade process in any way; rather, Afghanistan's trade with region and other countries is proceeding normally, without any obstacles. There has been no reduction in the level of customs duties



with the halting of trade relations with Pakistan, and trade goods are processed through Afghan customs as usual. MoF has provided significant facilities for domestic and foreign traders at all customs offices in Afghanistan; therefor, business owners can trade with neighboring, region and countries other than Pakistan. MoF once again assures all traders that it will fully support traders in strengthening business relations through alternative channels instead of Pakistan, and is committed for paving the way for providing more facilities in the relevant arenas.




# افغانستان د لویو ایراني شرکتونو له لاري د پانګوني لېوالتیا لري



د تهران ټایمز ـ TEHRAN TIMES په یوه تازه ریپورټ کي راغلي دي، چي افغان سوداګر د لویو ایراني شرکتونو له لاري پانګوني ته زړه ښه کوي. د ایران د سوداګرۍ، صنایعو، کانونو او کرني سوداګریز پلاوي د افغانستان د سوداګرۍ او پانګوني خوني له مسؤلانو سره کتلي دي. ریپورټ لیکي، چي د دواړو ګاونډیو هیوادونو تر منځ دا غونډه د ایران او افغانستان د اړیکو پر (۳) مهمو برخو؛ لکه: «پانګوني، صادراتو او ټرانسپورټ» متمرکزه وه. ورپسې زیاتوي، چي پر یادو درېیو برخو دواړه لوري ټینګار کوي، نو ځکه د دواړو هیوادونو د سوداګرۍ خوني باید په دې برخو کي فعالي سي. په دې مجلس کي په کابل کي د ایران سفیر، علي رضا بګدلي هم حضور درلود، چي په مجلس کي ئې د ایران او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ او پانګوني اړیکو زیاتولو له پاره د دواړو هیوادونو د وړتیاوو او ظرفیتونو یادونه وکړه. د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویاند اخوندزاده عبدالسلام جواد صاحب د ایراني پلاوي د سفر موخه «د دوه اړخیزي سوداګرۍ د خنډونو په ګوته کولو، د ټرانسپورټي مسئلو او ګډي پانګوني په اړه همکاري ښه کول» یاده کړه. تهران ټایمز زیاتوي، د صنعت، کانونو او سوداګرۍ وزیر سید محمد عطابک، چي د ایراني پلاوي مشري ئې کوله هم د اسلامي امارت د ریاست الوزراء د اقتصادي چارو له مرستیال له ملا عبدالغني برادر اخوند، د سوداګرۍ، اینرژۍ او اوبو او کانونو وزیرانو سره کتلي دي. د ایران ـ اسرائیلو د ۱۲ ـ ورځنۍ جګړې په اړه عطابک د افغانستان دریځ هم ستایلی دئ او وایي، چي د ګډې اقتصادي کمېټې راتلونکې (۷.) غونډه به د اُورګاډي پټلۍ، سړک او سوداګرۍ په برخه کي د همکارۍ د پراختیا له پاره یو فرصت وي. ریپورټ کاږي، چي د بانکي اړیکو، له چابهار بندر څخه زیاته ګټه اخیستنه، د خواف - هرات اُورګاډي پټلۍ له لاري د محمولو د تګ راتګ زیاتول او د کانونو په سکټور کي ګډ کار هم د مجلس یوه برخه وه.

د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کي دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومي ستونزي حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندي شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



د شکایتونو اورېدلو آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چي د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چي د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندي ادرسونو له لاري شریک کړي.
ټلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳
/۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ ( +۹۳ )
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af